مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رناګل اریوبزی ۲۰۲۳/۰۹/۱۶

# په اسلام کې د کار ارزښت او ورځخه د طالبانو کرکه

کارپه عامه مانا عمل اوټولو کړووړو ته وايي او په خاصه مانا، چې ددې ليکنې موضوع ده، هغه شعوري او په موخه برابره کړنه ده چې په پايله کې يې دځان اوهم دبل ( کورنی اوټولنی ) دپاییښت توښه ترلاسه کيږي. ياني انسان دکار په واسطه هغه څه توليدوي چې دژوند اړتياوې يې پوره کوي. ټول هغه څه چې مصرفيږي کارپه واسطه توليديږي. انسان دکار په بهير کې خپل جسمي اوعقلي ځواک سره يو( متحد ) کوي ياني له سره دخپل پيچلي مغزي فعاليت ( عقل، فکراوشعور) په رڼا کې کار اوفعاليت کوي، دکارموضوع ته د خپلوانساني ځانګړتياوو ياماهيوي ځواکونو(عقل، فکر، شعور....) په برکت دخپلواړتياوو سره سم تغير ورکوي، له لرګي چوکی ياکرکی اوهم دکارځني افزارجوړوي.کله چې انسان دخپل کاراوفعاليت په وسيله دخپلې اړتيا له مخې طبيعت ته تغيرورکوي ، کانونه راکيندي، په مځکه کرنه کوي اويا له طبيعي موادونه دکار افزاراونوردارتياوړسامانونه جوړوي، خپل ځان ته هم تغيرورکوي، نوي مالومات اونوې تجروبې راټولوي، دکارمهارت اوقابليت يې وده کوي. نو ځکه كه كار له يوې خوادانساني ژوند دارتياوودپوره کولو، دشخصي اوټولنيزې شتمنې دپيمانولواودبشري ټولنې دپرمختګ سرچينه ده، نو له بلې خوا دانسانی شخصيت، دهغه دجسمي اومعنوي ځواکونودوې، عزت، ميراني، نيکبختي اونوروانساني ښيګڼو اصلي سرچينه هم ده.
داعلت دی چې کارداسلام مبين دين کې وچت مقام اولوړارزښت لري. لوی پروردګارپه قرآن عظيم الشان کې دهرمسلمان ديني اودنيوي برخليک دهغه په کاراوعمل پورې تړلی دی اوعمل يې دانسان دلارې مل بللی دی. دبشري ټولنې ابادي، پرمختګ اوسوکالي دهغې په کاراوزيار پورې اړه لري. ديني لارښونې او تاريخي تجروبې راښيي چې بيله کاره اوبيله پرله پسې هلوځلو دشخصي او ټولنيز ژوند په هيڅ برخه کې هيڅ ډول پرمختګ دتصوروړنه دی، دهر قوم اوولس پرمختګ اووروسته پاتې والی دهغه قوم په کاراوزيار پورې اړه لري. ځکه:« لوی خدای دهيح قوم حالت ته تغيرنه ورکوي، هرقوم بايد خپل حالت په خپله بدل کړي.» او په بل آيت شريف راغلي دي چې:« بې کاراوزيارڅخه انسان ته هيڅ شی هم په لاس نه ورځي.» په قرآن شريف کې ډير داسې آيتونه شته دي چې ددين اودنيا له پاره دکار اوزيارارزښت راښيي. دهرفرد اوهرولس سوکالي او پرمختګ دهغوی په کار ازيار پورې تړلي دي اوبيله کار اوزيارڅخه هيچا ته هيڅ شی په لاس نه ورځي. حضرت ابوبکرصديق فرمايي چې:« هيڅ مسلمان ته نه ښايي چې درزق دپيداکولو له پاره کښيني او دعا وکړي چې الله ماته رزق راکړه ځکه تاسي ته ځرګنده ده چې داسمان نه سره اوسپين نه راوريږي.» ( دتوکل ترڅنګ عمل اوحرکت ته هم اړتيا ده.) داسلام مبين دين په دنيا اواخرت کې دمسلمان سرلوړي دهغه په حلال کاراوزيار پورې تړي، حلال کاراونيک عمل ددنيا اواخرت له پاره دتوښې دترلاسه کولويوازنی لارګني. حضرت ابوبکرصديق ( ض ) تينګارکوې چې:« هغوی چې داخرت له پاره دنيا پريږدي، منلي نه دي، منلي خلک هغه دي چې ددنيا او آخرت دواړو حق پرځای کړي.» دحضرت ابوبکر صديق ( ض ) دا مبارکه مقوله راښيي چې مسلمان دحلال کارپه وسيله له يوې خوا په دنياکې دژوند توښه ترلاسه کوي، ددنياوي ژوندشرايط جوړوي اوله بلې خوا هماکار دلوی ذات په دربارکې دمسلمان عبادت ګنل کيږي ياني ثواب لري. داسلام پيغامبرحضرت محمد( ص ) فرمايي چې:« په حلاله روزی پورې هلې ځلې په هرمسلمان اوهري مسلماني فرض دي.» دحلالي روزې دپيداکولوله پاره کار په هرمسلمان – نر اوښځې – فرض دی اودفرض ادا کول عبادت دی.حضرت محمد مصطفی ( ص ) په يوه بل حديث شريف کې فرمايي چې:« عبادت اويا برخې لري، په دې کې دحلالي روزې ترلاسه کولو پاره هلې ځلې ترټولولوی اولوړعبادت دی.» اوپه بل حديث کې فرمايي:« هغه څوک چې دخپلې خيلخانې دژوند داړتياوودپوره کولو له پاره هلې ځلې کوي، ترڅوچې دهغوی دژوند وسايل برابر کړي، دخدا تعلی دلارې مجاهد مقام لري.»
کارپوهان په دې عقيده دی چې انسان دژوند داړتياوو دپوره کولوله پاره کار کوي اوزيارګالي، کله چې شته اړتياوې پوره کړي، نوره نوې اړتياوې پيداکيږي اوددي نوواړتياوو دپوره کولوله پاره انسان نور کار اوزيار ته اړکيږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دپرله پسي كاراوزيار په پايله كې دانسان كاري ځواک اودهغه دكاروسايل وده كوي. له بلې خواانسانان دځان ځانۍ ياني له له يوه بل څخه ګوښې ژوند نه لري، بلكې ټولنيزمخلوق دى او په دې ټولنيزژوند كې ديوه بل مرستې ته اړتيالري. له يوې خوادانساني ژوند دټولنيزې ځانګړتيا اوله بلې خوادانسان دكاري وړتيا اودكاروسايلودودې په بهيركې دكارويش رامنځته كيږي، كار په بيلابيلو څانګو ويشل كيږي، ډول ډول حرفې،كسبونه او مسلكونه اوورسره سم ډول دول انساني مهارتونه، قابليتونه،اوتخصصونه راپيداكيږي اووده كوي. دتاريخ په اوږدوكې ځنې كسبونه له منځه ځي اوځنې نوي راپيداكيږي، خوپه ټوله كې دكاويش پراخيږي، دكسبونواوورسره سم دكسبګروشميرزياتيږي. هركسبګراوهره كسبګره دخپل كسب له لاري دخپلې خيلخانې ژوندبسياكوي اوله بلې خواټولنې ته خيررسوي: ښوونكې ياښوونكى دنورو اولادونو ته ښوونه كوي، تركاڼ ياتركاڼه ورته ميزونه، چوكۍ، دكورونودروازې، كړكۍ اوداسې نورجوړوي، بزګريابزګره خوراكي توكي توليدوي. ډاكټره ياډاكټردناروغانودرملي كوي اوداسې نور. په دې توګه ټولنيزژ وند نظم، سروسامان مومي اوپرمخ ځي. دپاک اوحلال كاراوكسب له لارهره مسلمانه اوهرمسلمان نه يوازې دخپلې خيلخانې له پاره حلاله روزي پيداكوي بلكې نوروانسانانو ته هم خيررسوي اودبشري ټولنې ددوام بنسټ جوړوي. له دې امله داسلام پيغمبر(ص) فرمايي چې:« دپاک اوحلال كسب لټون فرض دى.»او په يوه بل حديث شريف كې راغلي دي چې:« كسبګردخداى دوست دى.»

داسلام په مبين دين كې دكاروچټ مقام اوارزښت له دې هم څرګنديږي چې هرپيغمبرپه خپله درسالت ترڅنګ په يوه كاراوكسب بوخت و. پيغمبرانودخپلوخيلخانودلګښتونو پيسې دبيت المال څخه نه ترلاسه كولې، ذكات، شكرانواوسخات ته يې لاس نه نيوه او په ديني مقدساتو يې هم تجارت نه كاوه. هريودرسالت ترڅنګ په يوه كاراوكسب بوخت واوپه بشپړه پت اوعزت يې دخپل ځان او خپلې خيلخانې دژوند اړتياوې دحلال كاراوكسب له لارې پوره كولې. دبيلګې په توګه حضرت موسى ( ع ) دحضرت شعيب ( ع ) سره مزدوري كوله، حضرت داؤد ( ع ) دګنډنې په كسب بوخت واو داسلام پيغمبرحضرت محمدمصطفى ( ص ) دبعث نه وړاندې دشپنتوب اوورپسې يې دتجارت دنده درلوده اودبعث نه وروسته يې دخپلواصحابوسره په ټولوچاروكې فعال ګډون كاوه.

ددې پاس ليكل شوو كرښو لنډه پايله داده چې لوى پروردګاردهرمسلمان اوهرې مسلمانې ديني اودنياوې برخليک دهغه په كار اوعمل پورې تړلى دى اوداسلام پيغمبرمحمدمصطفى ( ص ) دحلالې روزې ترلاسه كولوله پاره كاراوكسب ترنوروټولوعبادتونولوړعبادت، كسبګريې دخداى دوست اودكاراوكسب لټون يې په هرمسلمان او په هره مسلمانې فرض بللى دى او هرپيغمبردځان اودخپلې خيلخانې دروزې دپيداكولوله پاره په خپله كاركړي اوزياريې ايستلى دى. په دې ځاى كې دا پوښتنه پيداكيږي چې دا دنن ورځې په اصطلاح ديني عالمان، دازموږطالبي شيخان چې ځانونه ددين مدعيان او دپيغمبرانو وارثان ګڼي ولې پاس په دې ليكنه كې دذكرشوو آيتونو اوحديثونو نه بېخبره دي اوكه چيرې خبروي، نوولې دخداى اودرسول دكلام پروا نه ساتي اوولې دپيغمبرانو په لار نه ځي؟ ولې دكاراوكسب نه، چې ترټولوعبادتونولوى عبادت دى، دخداى دلارې جهاد دى، دلوى خداى دوستي ده اوله دې امله په هرمسلمان اوهره مسلمانې فرض دى، نه يوازې ډه ډه كوي، بلكې دنورو دكار اوكسب دزده كړې مخه هم نيسي؟ منم چې دكسب زده كول، كاركول، دمټواومغز په كارول اوزيارايستل له ستونځو سره تړلي دي، خودالارپه دين اودنيا كې دسرلوړى لارده.حضرت ابوبكر ( ص ) فرمايلي دي چې:« دربړونو اوستونزو زغمل او دالله بندګانو ته داسانتياوو برابرول رښتينى نارينتوب اوغوره سخا ته ده.» خداى بخښلى ګل پاچاالفت چې زموږ دهيواد يونامتو ديني عالم شاعر،اديب اوفيلسوف تيرشوى دى، ليكي چې:

څوركعته نفل كول شيخه دومره ګران نه دي خداى خوشالول جنت ګټل دومره اسان نه دي

شيخه! كه په دې پوهيږې چې نفل مستحب دي اودحلالې روزۍ دپيداكولو له پاره كاركول اوزياررايستل فرض دي، نو داخرت په تمه دنفلونو په بهانه دكاراوزيارنه ځان مه پټوه، هيمت له لاسه مه وركوه، راپورته شه، بډې وواهه، ملا وتړه، متې راونغاړه، دخپل ځان اودخپل اولاد دژوند دبسيا كولوله پاره لاس په كارشه، ځانته اوخپل عيال ته دحلالې روزې پيداكول په تا فرض اوستا مسؤليت دى، دبل په اوږو يې مه باروه، له خداى وډارشه، لږڅه په زړه كې رحم پيداكړه، دهيواد پاک لمنې جونه او ميرمنې دكار اوكسبونو له زده كړې مه منع كوه. حلال كاراوكسب داباديۍ اوسوكالۍ سرچينه ده، كاراوزياردپرمختګ، ترقۍ اوبل ته دانړتيا نه دازادۍ لارده اوورسره سم داكاراوكسب په هرې مسلمانې اوهرمسلان فرض اوترنوروټولوعبادتون لوړعبادت دى اوله دې امله دين اودنيا كې دعزت اوسرلوړۍ توښه ده. كاراوكسب سره دښمني داسلام اوانسانيت سره دښمني ده، دالارددين اودنيادتباهۍ لارده او په افغانستان كې داسياست دافغان ولس دبې وزلۍ، بې وسۍ اوبربادۍ سياست دى، نوځكه داسياست يوناكام اوداسلام اوبشريت په تاريخ كې بې مثله بدنام سياست دى. كه چيرې طالبي شيخان په رښتيا په اسلام عقيده لري اوددې پاک دين نه دامارتې اقتداروسيله نه جوړوي، نوبيدرنګه به نه يوازې په ټول هيواد كې دجونواوميرمنو په مخ دكار اوزده كړولارپرانيزي، بلكې دديني مدرسوپه تعليمي نصاب كې به لږترلږه ديوه كسب زده كړې ته هم ځاى وركوي. داكاربه دمدرسوفارغانو ته امكا په لاس وركړي چې په جوماتونوكې دامامت ترڅنګ په كاراوكسب هم لاس پورې كړي، دحلال كسب له



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ

لاري دخپل ژونداړتیاوي په خپله پوره کړي، دبل چا داوږوبارنه شي، بل ته دلاس نیولو، ذکات اوشکرانوته دتمي کولونه ازادشي، سرلوړی ژوند وکړي اوپه عمل کي دپیغمبرانو په لارروان شي. داطالبي شیخان ولي په دي نه پوهیږي چي ددنیا کار او په دې دنیاکي کاراوزیاردین مخالف عمل نه دی، کاراوکسب ددین برخه اوعملي دینداري ده. رحمان بابا وایي چي:

کارهمه واړه موقوف دی د سـري پــه مدعا
کـــه دانـــا يي وپـــوهیږه پـــه روا پـــه نـاروا

فتوا ونیســـه پــه مخ کي پسي مخ کړه په تقوا
دنیا نه دی هغه دین دی چي لــه نهي وي سیوا

نــــــــوځـــــــــــکــــــــــه:
مــاته ملا پـــه مشقت په محنت ښــه ده نـــه حـــرامـــه همیاني دچاتـــرمـــلا
روند بهتردی چي څه نه ویني په سترګو نه چي سترګي په پردي حرام که وا

زده کړه، کاراوکسب بل چاته دلاس نیولو، په حرامو دژوند کولو، ګدایی، دبل دبنده ګی اوهغه ته دسرټیټولونه دازادی لارده، دبل داحسان نه ازادي دلوی پروردګار په دربارکي بي ریابندګي ده. دالار دهرفرد، دهرې کورنۍ اودهرولس دپرمختګ، سوکالۍ
لارده اودنوروولسونوسره دسیالي اودنورودولتونونه دخپلواکۍ لارده. شیخه! ولي په دي نه پوهیږي چي بي کاري اوبي کسبي دینداری ته زیان رسوي، دخدای بنده ګي په ځای پاتي کیږي اودانسان څخه دانسان بنده جوړوي، داستعدادونو دودې مخه نسي ،ننګ اوغیرت له منځه وړي اوانساني اخلاقوته زیان رسوي. حضرت لقمان ( ع ) چي پوهه اوحکمت یې په قرآن شریف کې ستایل شوي دي فرمایلي چي:« بې روزګاري اړتیا منځ ته راوړي اواړتیا په دینداری کي خلل اچوي، فکر ته زیان رسوي اومروت ( میرانه ) له منځه وړي.» نوځکه داسلام پیغمبر( ص ) فرمایلي دي چي:« لعنتي دی هغه څوک چي دبل داوږوباروي.» یاني په خپله کارنه کوي اوزیار نه باسي، له ځانه دبل داوږوبارجوړوي اودبل په تمه ژوند کوي. حضرت علي ( ک ) فرمایي چي بل چاته:« تمه مه کوی ځکه دتمه کوونکي په اوږودذلت اومریي توب پړی پروت وي.» وینوچي بیکاري، بي کسبي اوطفیلي ژوند له دینداری سره نه جوړیږي، له همدې امله حضرت عثمان ( ض ) فرمایلي دی چي:« تر ټولو خوار کسب هم دلاس غځولو( خیرات غوښتلو) نه ډیر فضیلت لري».
کومومبارکو آیتونو، حد یثونواومقولو ته چي په دي لیکنه کي اشاره شوي ده یوازني آیتونه، حدیثونه اومقولي نه دي چي پکي هر مسلمان اوهرې مسلماني ته په کار، کسب اوزده کړوتینګارشوی دی، بلکي نور آیتونه، حدیثونه اومقولي هم شته چي کار کسب اوزده کړې یې په هر مسلمان ( نر اوښځه ) فرض ګڼلي دي. زموږ طالبي شیخان یا له دي مقدسواسنادو له سره خبر نه دي اوکه چیری خبر وي، نوداسي ښکاري چي دخدای ( ج ) اودرسول ( ص) دکلام پروا نه لري. دحلال کاراوکسب په هکله هیڅ نه تري اوریدل کیږي اوځني یي لادعقلي علوموزده کړه مباح ګڼي، ښځي کاراوجونه زده کړو ته نه پریږدي، تعلیمي سستم دزوال په لوربیایي اوپه دې ډول دکاراوکسب پوهنیز بنسټ له بیخه ورانوي. همداوس مي په یوه رسنۍ کي ولوستل چي دطالبانو دلوړوزده کړووزیر ندیم دملي تلویزیون سره په مرکه کي وویل چي:« هره مسلمانه خور مالي حق، علمي حق، او د عزت حق لري، دا مسوولیت او مکلفیت دی چي ورېي کړو، څه چي خدای پاک په دین کي وایي، هغه خامخا ورکوو، خو بیره مه کوئ چي ولي دا کار ژر نه کیږي.» له دي څرګندونو نه داسي ښکاري چي داسلامي امارت دلوړوزده کړو وزیرلا په دي نه دی خبرچي لوی پروردګار په هره مسلمانه خور، موراولوردلمونځ اودحلال کسب اوکار په شان دعلم زده کړه هم فرض کړي ده.
طالبانوددي فرض دادکولو مخه نیولي ده. دفرضوداداکولومخنیوی، که یوه ورځ هم وي، دلوی خدای دامرون په وړاندي بغاوت دي اوله بلې خوا دښځینه جنس دزده کړواودکاراوکسب مخنیوی دهغوی په حق تیری دی. خدای تعلی هره بله ګناه بخښي خودانسان په حق تیری نه بخښي. په هره اندازه چي دزده کړو، دکاراوکسب مخنیوی، او دافغاني جونو اومیرمنوپه حق تیری دوام کوي په همغه اندازه دین اودنیاته زیان رسوي. دطالبانوداکړني هیڅ ډول دیني اوانساني مشروعیت نه لري. په دي هکله مو دځني شیخانو دروغجني وعدي، فتواګاني اوبهاني ډیرې واوریدلي، هیڅوک پرې باور نه کوي. په بیره عملي اقدام په کاردی. وخت تیریږي، هیچاته انتظار نه باسي.

لیکونکی: رناګل اریوبزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ